
Center for Prevention Programs and Partnerships

# ولې په نښه شوی زورزیاتی او د ترهګرۍ مخنیوونکې ستراتیژي ستاسې له ایالت سره مرسته کوي

## پر مخنیوونې را ټوله کړنلاره

د ایالت په کچه په نښه شوي زورزیاتي او ترهګرۍ د مخنیووي (TVTP) ستراتیژي د تلپاته لاربښوونو، حکومتولۍ او جوړښتونه د وړاندې کولو هغه اغېزمنه لاره ده چې ستاسې د ایالت سرچینې د ځانګړې او بالقوه ګواښ له چاپېریال سره تنظیموي. همداشان دا عامه خلکو ته د مخنیوي د امکان د اعلان لپاره یوه لاره ده. د بې شمېرو سکټورونو – له هغې ډلې عامې روغتیا، معارف، عدلیې، د قانون پلي کوونکو، روغتیايي خدماتو، ټولنیزو خدماتو او حکومت په ګډون – ژمنه، همکاري او رهبري بریالۍ پلي کېدا او اوږدمهاله اغېز وړاندې کوی.

ستراتیژي موخه دا ده چې د کسانو له خوا له تاوتریخوالي ډکې کړنې د تر سره کېدو وړاندې د خطر عوامل را ټیټ او د نامطلوبه احتمالي عواقبو د ټیټوالي لپاره TVTPد دولتي ساتونکي عوامل پیاوړي کړي. دا کارکړنه د ټولو وګړو پر عمومي روغتیا، ایمنې او هوساینې باندې ټینګار لري. په پایله کې، په نښه شوی تاوتریخوالی او د ترهګرۍ مخنیوی د د زورزیاتي د مخنیوي له لسیزو څېړنو او کړنو – د رفتاري روغتیا (رواني روغتیا او د موادو ناوړه ګټنه)، عامې روغتیا او د قانون د TVTPقانون تر پلي کېدا زیات اهمیت لري. پلي کوونکو کسانو- خبر دی او داسې پروګرامونه له ځان سره لري چې د افرادو، همځولو، کورنیو، ټولنو او ټولنې څخه ملاتړ کوي.




## پلان: «یوه داسې لاره»CP3 د ستراتیژي د پراختیا د اسانتیا لپاره د

له دولتونو سره د لومړیتوبونو د CP3چې په سیمه ییزو اړتیاوو، خطرونو، ننګوونو او کلتوري برخو کې ریښه ولري، پېژندنې په برخه کې د پام وړ ټکي او له ذینفعانو سره د مرستې لپاره مناسب رولونه او مسوولیتونه ترسیم کړي دي. د ستراتیژي د پراختیا لپاره یو بشپړ چوکاټ باید لاندې موارد له ځان سره ولري:

- د خطر ارزونه او د سرچینو اختصاص
- د همکاري کاري چوکاټونه
- د ایالت او CP3 د کړنو توکي
- د وروستیو فعالیتونو لپاره مشرح او پړاویزه کارکړنه
- د اندازه نیولو او ارزونې میکانیزمونه

ستراتیژي د تدوین د پېچلتیاوو د TVTPدا پلان داسې جوړ شوی تر څو ایالتونو ته د یوې پیاوړې طراحي شوي مدیریت په برخه کې لاربښوونه او ملاتړ وړاندې کړي.

## د TVTP د ایالتي ستراتیژي ګانو له لارې تر ټینګار لاندې ساحې

ایالتونه د سرچینو د شریکولو، د سیمه ییزو او ملي پروګرامونو له لارې د اړیکو د پراخولو او همداشان د اړتیا په صورت کې د روزنې د وړاندې کولو او تخنیکي مرستې پر مټ د امیدوارو مداخلو د ملاتړ، مقیاس کولو او خپراوي په برخه کې مهم رول لوبوي. یوه دولتي TVTP ستراتیژي د رشتو په منځ کې د رولونو او مسوولیتونو په اختصاص او په ورته وخت کې د ډله ییز غبرګون د هڅوونې پر مهال د ذینفعانو ګډون دودوي.

## له CP3 سره کار کول

- د CP3 د ایالتي ستراتیژۍ د په نښه شوي زورزیاتي د مخنیوي سرچینې دلته وګورئ
www.dhs.gov/publication/state-tvtp-strategy-development-cp3-prevention-resource
- د زورزیاتي د مخنیوي سرچینو یوه بشپړ کلکسیون ته د لاسرسي لپاره د مخنیوونکو سرچینو موندونکي ویبپاڼې ته ورشئ www.dhs.gov/prevention
- د په نښه شوي زورزیاتي او ترهګرۍ د مخنیوي (TVTP) مالي مرستې پروګرام او د تمویل د فرصتونو د کلني یادښت په اړه دلته زده کړئ www.dhs.gov/tvtpgrants
- د CP3 د نوښتونو د سپړلو لپاره، زموږ په پروګرامونو کې ګډون وکړئ، له موږ سره وصل شئ یا هم د عمومي پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ له موږ سره اړیکه ونیسئ پاڼې نه لیدنه وکړئ یا هم لاندنی د_QR کوډونه سکن کړئ.

### CP3 څرنګه د TVTP د ستراتیژۍ له پراختیا سره مرسته کوي

- د ایالت مشري ته لاسرسی لرل
- د ایالتي TVTP ستراتیژۍ د ورکشاپونو پر لاره اچول
- د تحویلي د محصولاتو ټاکل
- د ایالتي ستراتیژي ګانو مخلیکنه کول

www.dhs.gov/cp3